اونیزه مجله :338
WEEKLY BOOKLET:338

د شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت، بانئ دعوتِ اسلامي حضرتِ علامه مولانا
محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَكَاتُـهُمُ الْعَالِيَه د ملفوظاتو تحریري ګلدسته

# د صدقاتو

## په باره کښې 25 سوالونه او جوابونه

پاڼې 17


په صدقه ورکولو به عمر څنګه زیاتیږي؟ 02
په مړهو باندې د صدقې غوښه خوړل څنګه دي؟ 11
د حلالو او حرامو ګډې وډې ګټې نه صدقه کول څنګه دي؟ 06
د علیقې کولو په ځائې صدقه کول څنګه دي؟ 17





پیشکش: مجلس (دعوتِ اسلامي)
المدينه العلميه
Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

# د امیرِ اهلِسُنَّت نه د صدقو په باره کښې 25 سوالونه او جوابونه

**دُعائے خلیفۂ عطّار:** یا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله "**امیرِ اهلِسُنَّت نه د صدقو په باره کښې 25 سوالونه او جوابونه**" اولولي یا واوري د هغه په حلال رزق کښې برکت عطا کړې او هغه ته د **الله** پاک په لار کښې د صدقې او خیرات کولو توفیق عطا کړې.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي** صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم **فرمان مبارک دے:** "د قیامت په ورځ به د **الله** پاک د عرش د سوري نه علاوه بل یو سورے نه وي، درې کسان به د عرشِ الٰهی په سوري کښې وي. عرض اوکړے شو: یا رَسُولَ الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ! هغه به کوم خلق وي؟ ارشاد یې اوفرمائیلو: ﴿1﴾هغه کَس څوک چې زما د اُمَّت پریشاني لرې کړي ﴿2﴾زما سُنَّت ژوندي کوونکے ﴿3﴾په ما باندې په کثرت سره دُرُود شریف لوستونکے. (البدور السافرة، ص131، حدیث:366)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

**سوال:** د صدقې او خیرات د قبولیت معیار څه دے؟

**جواب:** په اِخلاص سره چې کوم عمل اوکړے شي د **الله** پاک په رحمت سره په هغې کښې د قبولیت اُمید ډیر زیات دے، او که اِخلاص نه وي نو بیا هغه رَد دے، په هغې کښې قبولیت نشته. (نسائی، ص510، حدیث:3137ماخوذاً) لکه څنګه چې خلقو ته د ښودلو د پاره چا پیسې ورکړې نو د ثواب اُمید نشته. دلته خو حالات داسې دي چې عام طور هُم خلقو ته د ښودلو د پاره پیسې

ورکوي، که خلق يــې اونه ويني نو هغوئي ته وائي چې ”ما دا دا کړي دي او دومره دومره مې ورکړې دي.“ که په وئيلو کښې دا نيت وي چې مخامخ کَس هم ترغيب حاصل کړي نو دا ښه نيت دے او په دې به ثواب هم ميلاويږي، (احیاء العلوم، 390/3، احیاء العلوم (مترجم)، 940/3) خو صرف په دې نيت وئيل چې ما ته سخي اووائي، نر سړے راته اووائي نو دا رِيا ده، په دې کښې د ثواب اُميد نشته. (فتاویٰ رضویه، 625/23 ماخوذاً) ”اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ. (بخاری، 5/1، حدیث: 1) (يعنې د اَعمالو دار او مدار په نيتونو دے).“ د وړوکي نه وړوکے عمل کوم چې د **الله** پاک د راضي کولو د پاره شوے وي او په هغې کښې د غير عمل دخل نه وي نو په هغې کښې د ثواب اُميد کيدے شي. د اِخلاص نور هم ډير تعريفونه دي. (مرقاۃ المفاتیح، 486/1) البته که په څه کار کښې د غير عمل دَخل هُم د **الله** پاک د رضا د پاره شامل شو نو ټيک دے، مثلاً د يو بنده مونږه د دې د پاره مدد اوکړو چې د هغه زړهٔ خوشحاله شي او په دې باندې ما ته ثواب ميلاو شي نو دا هم د **الله** پاک د رضا والا کار دے، حالانکه په دې کښې د بنده رضا هم شامله ده، خو د دې بنده د رضا اصلي مقصد د **الله** پاک راضي کول دي، ځکه دا هم عبادت شو. (ملفوظاتِ امیرِ اهلسنت، 234/5)

**سوال:** چې د انسان عُمر مقرر دے، نو د صدقې ورکولو سره عمر څنګه زياتيږي؟

**جواب:** د **الله** پاک په عِلم کښې دي چې بنده به په څومره عُمر کښې وفات کيږي. که د هغه په عمر کښې اضافه کيدل وي نو داسې اسباب به پيدا شي چې د هغه عمر به زيات شي. دا ټول د **الله** پاک نظامِ قدرت دے. خو د **الله** پاک په عِلم کښې د کيدو يا د **الله** پاک د مشيت دا مطلب نه دے چې بنده هر څه پريږدي، که بيمار شي نو عِلاج دې نه کوي او سوچ دې کوي چې که [په مقدّر کښې مې] ښه کيدل وي نو ښه به شم، هسې خو هُم شفاء **الله** پاک ورکوي د دوايئ خوړلو څه ضرورت دے؟ ظاهره ده چې څوک به هم د دې خبرې په اوريدو دوائي نه پريږدي، دوائي ټول خلق خوري. آؤ! په کتابونو کښې د متوکلينو د يوې ډلې واقعات ليکلے شوي دي کوم چې عِلاج نه کوي او په **الله** پاک باندې تَوَکُّل کوي. [1] کيدے شي چې داسې خلق

[1]... د حضرتِ سهل تُستري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يو خاص مرض وو. چې هغه مرض به په بَل چا وو نو هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه به د هغه عِلاج

اوس هم وي خو په وړو کښې د مالکې برابر. بهر حال! په روايتونو کښې د مختلفو اَعمالو برکت بيان شوے دے چې د څه سره عمر زياتيږي او په څه رزق فراخه کيږي. په بهارِ شريعت جلد 3 صفحه نمبر 560 کښې مسئله نمبر 6: په حديث شريف کښې راغلي دي چې صِلۀ رِحمي يعني د خپلوانو سره د ښه سُلوک سره عُمر زياتيږي او په رِزق کښې فراخي راځي. (بخاری،97/4، حديث:5985 ماخوذاً) بعضې علماؤ دا حديث په ظاهره باندې حمل کړے دے يعنې دلته قَضائے مُعلّق مراد دے ځکه چې قَضا مُبرم نشي لرې کيدے. او بعضو فرمائيلي دي چې د عمر زياتيدو دا مطلب دے چې د مرګ نه پس هم د هغه ثواب ليکلے شي لکه هغه چې اوس هم ژوندے دے يا دا مُراد دے چې د مرګ نه پس هم د هغه ذِکرِ خير په خلقو کښې باقي پاتې وي.

(رد المحتار، 679678/9 ملخصاً) (ملفوظاتِ امير اهل سنت، 245/5)

**سوال:** په صَدقه او خيرات کښې څه فرق دے؟

**جواب:** صدقه د عربئ ژبې لفظ دے، په اُردو کښې صدقې کولو ته خيرات وئيلے شي. په عربئ کښې خيرات د "خير" جمع ده د کوم معنیٰ چې ښيګړه ده. البته په اُردو کښې مالي مدد ته خيرات وئيلے شي، لکه څنګه چې فقير له پيسې ورکړې نو دې ته خيرات وئيلے شي. زکوٰة هم د اُردو په لحاظ سره خيرات وي. (ملفوظاتِ امير اهل سنت، 317/6)

**سوال:** صدقه څه ته وئيلے شي؟

**جواب:** د صدقې په باره کښې ډير خلق دا ګڼي چې په تور چيلي يا په تور بانګي [د چا د پاره چې صدقه کيږي د هغۀ] لاس راښکلے شي يا څه څيز هم اووه ګرَته د سر نه تاؤ کړے شي نو هغه صدقه ده. په دې انداز کښې څه څيز ورکول د صدقې سره سره ټوټکا هم ده. په اصل کښې هر هغه څيز کوم چې د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره د هغه په لار کښې ورکړے شي، د چا غريب مدد اوکړے شي

---

کولو، خو ځپله يې خپل عِلاج نه کولو. د هغوئي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡه نه په دې باره کښې پوښتنه اوکړے شوه نو هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: اے دوسته! "ضَرۡبُ الۡحَبِيۡبِ لَایُوۡجَعۡ" يعنې د محبوب وهل تکليف نه ورکوي. (احياء العلوم، 68/5)

يا د چندې په طور اوکړے شي هغه ټوله صدقه ده. (کتاب‌التعريفات،ص95)(ملفوظاتِ اميرِ اهلسنت، 390/6)

سوال: بعضې خلق غوښه يا ژوندے بانګي د خپل سر د پاسه تير کړي او په ځنګل کښې يې اوغورزوي او وائي چې پشا به نه ګوري آيا دا صحيح دي؟

جواب: د صدقې ډير قِسمونه دي فرض صدقه لکه زکوٰة، واجب صدقه لکه فِطره [يعني سرسايه] او نورې واجبې صدقې. نفلي صدقه لکه چا غريب له د ثواب په نيت پيسې ورکول کومې ته چې په اُردو کښې خيرات وئيلے شي دا هُم صدقه ده. د دې نه علاوه د صدقې بعضې صورتونه نور هم دي لکه د ځان صدقه ورکول وغيره. که د ځان صدقه ورکول وي نو په فتاوىٰ رضويه شريف کښې دي چې د ځان په بدله کښې دې داسې صدقه ورکړے شي چې حلال ځاروے دې ذبح کړے شي او ور دې کړے شي. (فتاوىٰ رضويه، 186/24 ماخوذاً) لهٰذا د ځان د صدقې ويستو د پاره چيلے يا بانګي ذبح کول او ورکول ډير ښه دي او په ژوندي ورکولو کښې هم څه باک نشته. داسې رقم، کپړې او دانې [يعني غله] وغيره څيزونه هم په صدقه کښې راځي. په پوښتنه کښې چې د صدقې کوم صورتونه بيان کړے شول دا د بابا جي خلقو دهوکې وي د دې د اختيارولو نه بچ کيدل پکار دي. د صدقې ويستو د پاره ژوندے بانګي پريښودل يا د چيلي سر يا ښپې په هديره کښې ښخول مال ضائع کول دي او داسې صدقه په کومه کښې چې مال ضائع کړے شي حرامه ده. (فتاوىٰ رضويه، 455/20 ماخوذاً)

پاتې شوه خبره پشا د نه کتلو نو ما ته ښکاري چې دا به بابا جي په خلقو باندې د تاثر اچولو د پاره وائي چې بانګي پريږدئ او پشا ورته مه ګورئ. دا هم ممکن ده چې بابا جي په داسې ځائے کښې بانګي يا چيلے د پريښودو وائي چرته چې د مخکښې نه د بابا جي کسان موجود وي څنګه چې بانګي يا چيلے پريښودے شي هغوئي يې اونيسي او بو يې ځي. لهٰذا بابا جي د دې ويرې نه چې که د بانګي يا چيلي پريښودونکے پشا اوګوري نو هسې نه چې زما غلا ښکاره نشي. ځکه صدقې ويستونکي ته دا وئيلے

شي او ويرولے شي چې پشا به ورته نه ګورې او که په کتو څه اوشول نو بيا ما ته مه وايه.

په بعضې صورتونو کښې " پشا نه کتل" د محاورې په طور هم استعماليږي لکه دا چې وئيلے کيږي "چې د الله پاک په لاره کښې ورکړئ نو پشا مه ګورئ" د دې نه مراد دا وي چې د الله پاک په لاره کښې د ورکولو نه پس دا خواهش مه کوئ چې ما ته دې واپس ميلاو شي يا يې زه واپس واخلم وغيره. لهٰذا بابا جي چې څه وائي چې " پشا ورته مه ګورئ" په دې کښې د هغوئي څه حکمت دے ما ته پته نشته او په دې باره کښې چې کومې خبرې ما ذِکر کړې دا د تَفَنُّن [يعنې تړوقې] په طور دي. (ملفوظاتِ امير اهل سنت، 249/1)

سوال: آيا په کور کښې موجود د صدقې رقم استعمالولے شي؟

جواب: که د نفل صدقې په نيت سره په کور کښې رقم کيښودے شوے وو چې "دا رقم به د الله پاک په لاره کښې لګووم يا د حضور غوثِ پاک شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نياز به پرې کووم" نو په داسې صورت کښې هغه ټول د هغه رقم مالِک دے، د هغه د پاره بهتره دا ده چې د کوم نيک کار په نيت يې رقم کيښودے دے په هغې کښې يې اولګوي، خو که هغه رقم په خپل څه کار کښې استعمال کړي نو هم پکښې څه باک نشته.

(په دې موقع باندې مُفتي حسّان صاحب اوفرمائيل:) نن سبا چې زمونږه د صدقې کومې بکسې کيښودے شي که په هغې کښې صرف خپل ذاتي رقم وي نو که هغه صدقهٔ نافله وي يا صدقهٔ واجبه، په دواړو صورتونو کښې چې تر څو يې صدقه نه وي ادا کړې تر هغه وخته پورې په دغه رقم استعمالولو کښې هيڅ باک نشته. (ملفوظاتِ امير اهل سنت، 62/10)

سوال: حلاله او حرامه ګټه که چرې يو ځائے کړے شي او صدقه اوکړے شي نو آيا هغه به قبليږي؟

**جواب:** حلال حلال دي او حرام حرام دي. **الله** کريم پاک دے او هم پاک مال قبلوي. [(1)] حرام مال خو د چا نه په زور اخستے شوے وي يا د رشوت وي لهٰذا د چا نه چې دا مال په زور يا [په رشوت په] اخستے شوے وي هغه له واپس ورکول لازمي دي. د چا نه چې يې اخستے وي که هغه وفات شو نو د هغه وارثانو له به ورکول لازمي وي. که د هغه څوک وارث نه ميلاويږي يا د چا نه چې يې اخستے وي هغه غائب شو يا پته يې نه لګي چې د چا نه يې اخستے وو نو بيا هغه مال [په شرعي فقير] صدقه کول ضروري دي. دغه شان که د چا نه يې سود اخستے وي نو هغه دې هم په چا شرعي فقير باندې صدقه کړي ځکه چې سود هم قطعي حرام دے، خو په دې کښې دا ضروري نه ده چې د چا نه يې اخستے دے هغه ته يې واپس کړي بلکې د چا نه چې يې اخستے وي هغه ته واپس کول يې بهتر دي. (فتاوىٰ رضويه، 551/23، 552 ملخصاً)

## د حرام مال صدقه کولو په وخت د ثواب نيت هم نشي کولے

ياد ساتئ! د حرام مال صدقه کولو په وخت د ثواب نيت نشي کيدے البته چا چې د شريعت په حکم باندې عمل اوکړو يعني شريعت د يو حرام مال واپس کولو يا په چا فقير باندې د صدقه کولو حکم کړے دے نو په دې حکم باندې د عمل کولو په وجه د ثواب اُميد دے خو کوم مال چې هغه ورکړے دے په هغې باندې د ثواب نيت نشي کيدے. (فتاوىٰ رضويه، 658/19) بعضې خلق د سود پيسې بغير د ثواب د نيت نه د اِستنجاخانو په جوړولو کښې

---

❶... د حضرتِ ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې د حلالې ګټې نه د کجورې برابر صدقه کړي او **الله** پاک صرف حلال قبلوي، نو **الله** پاک هغه په ښي لاس کښې قبلوي (يعني راضي کيږي) بيا د صدقې والا د پاره د هغې داسې پالنه کوي لکه په تاسو کښې چې خلق څنګه د خپل اس بچي پالنه کوي تر دې چې هغه صدقه د غر په شان شي. (ابن حبان، 134/5، حديث:3308) د حضرتِ ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه روايت دے چې نبيِّ کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: څوک چې حرام مال جمع کړي بيا د هغې نه صدقه ورکړي نو په هغې کښې د هغه د پاره هيڅ اَجر نشته او د هغې وبال به هُم په هغه باندې وي. (سنن الكبرى للبيهقي، 141/4، حديث:7240)

لګوي دا هم جائز نه دي [ځکه چې د سُود روپۍ هغه کس ته د واپس کولو یا شرعي فقیر ته د ورکولو حُکم دے]. [1] (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 169/10)

سوال: داسې صدقه څنګه اوکړے شي په کومې چې بیماري لرې شي؟

جواب: اعلیٰ حضرت امام احمد رضان خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه لیکلي دي چې د ځان صدقه د څاروي لکه چیلے یا بانګي وغیره ذبح کولو سره بهتره ده. په فتاویٰ رضویه کښې دي: "شیریني (یعنې خوږ څیز) یا خوراک په فقیرانو کول صدقه ده او که اقارب (یعنې په خپلوانو یې اوخورې) نو صلهٔ رحمي (یعنې د خپلوانو سره ښه سلوک دے) او که په احباب (یعنې دوستانو باندې یې اوخورې) نو ضیافت (یعنې د هغوئي میلمستیا ده). او دا درې واړه خبرې (یعنې په فقیر باندې خوړل، په خپلوانو باندې خوړل او په دوستانو باندې خوړل) موجبِ نزولِ رحمت (یعنې د رحمت نازلیدو) او دفعِ بلا و مصیبت (یعنې د بلاګانو او مصیبتونو لرې کیدو سبب) دے. (نور فرمائي:) هم دا حال د چیلۍ ذبح کولو او خوړلو دے. خو د تجربې نه ثابته شوې ده چې د ځان صدقه ورکول ډیره فائده رسوي (یعنې چې چیلے ذبح کړې او په خلقو یې اوخورې نو ډیره فائده کیږي او بلاګانې په تیزۍ سره ځي)." (فتاویٰ رضویه، 24/185،186 ملتقطاً) البته دا ضروري نه ده چې مریض یې پخپله ذبح کړي، بلکې چا له چې څاروے ورکوي هغه ته هم د څاروي ذبح کولو وئیلے شي. (ملفوظاتِ اهلسنّت، 464/10)

---

[1]...د اعلیٰ حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه په حرامه ذریعه د حاصل کړے شوي مال او د سود رقم د جومات په څه کار کښې د استعمالولو په باره کښې پوښتنه اوشوه، د دې په جواب کښې هغوئي ارشاد اوفرمائیلو: کوم مال چې بعینه (خالصتاً) حرام وي هغه د دې کارونو (یعنې د جومات د جوړولو او فراختیا ) د پاره اخستل هم حرام دي، او د کوم په باره کښې چې دا معلومه نه وي چې دا خاص مالِ حرام دے نو په هغې (مال) اخستو کښې هیڅ باک نشته، وَاللهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ. (فتاویٰ رضویه، 427/16) مفتئِ اعظم پاکستان، مفتي وقار الدین رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سود د رقم نه د نجات موندلو طریقه بیانولو کښې فرمائیلي دي: د سود رقم چا غریب حاجت مند له څوک چې د زکوٰة اخستو مستحق وي، هغه له داسې ورکړئ چې د هغه رقم مالک شي او په دې عمل کښې د ثواب نیت کول نه دي پکار ځکه چې حرام مال د ثواب ذریعه نشي جوړیدے، بلکې دا نیت اوکړئ چې زما په مال کښې کومه ګندګي شامله شوې وه هغه ترې اوباسم او خپل مال پاکووم. دا د سود روپۍ په څه داسې کار کښې نشي لګولے چرته چې څوک د دې مالک نه وي مثلاً په جومات، مدرسه، کوهي او لاره وغیره جوړولو کښې لګول [نه شي کیدے] بلکې په ذاتي ملکیت کښې ورکول ضروري دي. وَاللهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ (وقار الفتاویٰ، 243/1)

**سوال:** آیا په مَدَني عطیاتو کښې د یوولسمې شریفې په نیت رقم اچولے شي؟

**جواب:** آؤ جي! په مَدَني عطیانو کښې د یوولسمې شریفې یعنې د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیه د ایصال ثواب په نیت رقم اچولے شي بلکې که د غوثِ پاک رَحۡمَةُاللهِعَلَیه د ایصال ثواب په نیت باندې رقم واچوي نو ثواب به یــې زیات شي. البته په دې کښې د زکوٰة رقم نشې اچولے.
(ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 432/1)

**سوال:** آیا د بوټو نالولو فضیلتونه هم شته؟ [1]

**جواب:** آؤ جي! په حدیثونو مبارکو کښې د بوټو نالولو فضیلتونه هم بیان شوي دي. د بوټو نالولو په فضیلتونو باندې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې فرامین مبارک اوګورئ:
﴿1﴾کوم مسلمان چې بوټے نال کړي یا فصل وَکَري بیا د هغې نه څه مرغۍ یا انسان یا څاروے اوخوري نو دا به د هغه د طرف نه صدقه شمیرلے کیږي. (بخاری، 85/2، حدیث:2320)
﴿2﴾چا چې یوه ونه ناله کړه او د هغې په حفاظت او پالنه باندې یــې صبر اوکړو تر دې چې هغې میوه اونیوله نو د هغې نه خوړله کیدونکې هره میوه د الله پاک په نزد د هغه (نالوونکي) د پاره صدقه ده. (مسندامام احمد، 574/5، حدیث:16586) ﴿3﴾چا چې بغیر د څه ظلم او زیاتي نه کوم کور جوړ کړو یا د ظلم او زیاتي نه بغیر یــې ونه نال کړه، تر څو پورې چې د الله پاک په مخلوق کښې کوم یو هم د هغې نه فائده اخلي نو هغه (نالوونکي) ته به ثواب میلاویږي.
(مسندامام احمد، 309/5، حدیث:15616) (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 101/1)

**سوال:** د جومات جوړولو څه فضیلت دے؟

**جواب:** جومات جوړول صَدَقهٔ جاریه ده. جومات جوړوونکي ته به په جنَّت کښې عالي

---

[1]... دا سُوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب د امیرِ اهلِ سنّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه له خوا عطا کړے شوے دے.

شان محل عطا کیږي.[1] جومات جوړوونکي ته د میلاویدونکي ثواب اندازه نشي لګیدے ځکه چې جومات تر قیامته پورې جومات وي او چا چې جومات جوړ کړے وي هغه ته به تر قیامته پورې د هغې ثواب میلاویږي. لهٰذا څوک چې مالدار دي هغوئي له پکار دي چې په خپل ژوند کښې کم از کم یو جومات ضرور جوړ کړي چې د هغه د پاره صدقهٔ جاریه شي. د جومات جوړولو د پاره ضروري نه دي چې کروړونه روپئ اولګولے شي او ښه ښکلے جومات جوړ کړے شي بلکې په یو څو لاکهه باندې هم جومات جوړیدے شي. په بعضې ځایونو کښې د زمکې قیمت ډیر کم وي او په بعضې علاقو کښې ډیر زیات وي، بس د چا چې څومره وَس کیږي هغه دې د هغې مطابق زمکه واخلي او جومات دې جوړ کړي.

جومات په داسې ځائے کښې جوړول پکار دي چرته چې آبادي وي، په ځنګل یا بیابان [یعنې شړ ځائے] کښې جومات جوړول جائز نه دي. تر دې چې که چا په یو ځنګل، بیابان یا په څه شاړه کښې جومات جوړ کړو نو هلته د جومات د نیت کولو باوجود به هغې ته جومات نشي وئیلے.[2] په دې باندې لګیدونکے ټول رقم به هم ضائع شي او د آبادئ د نشتوالي له وجهې هغه ودانې د ځناورو د اوسیدلو ځائے هم جوړیدے شي. خو که په څه داسې علاقه کښې یې جومات جوړ کړو چرته چې د جوړولو په وخت خو آبادي وه خو وروستو هغه علاقه شاړه شوه نو هغه ځائے به هم جومات پاتې وي ځکه چې کله په څه [اباد] ځائے کښې د جومات نیت اوکړے شي نو هغه تر قیامته پورې جومات شي. (بهارِ شریعت، 561/2، حصه:10ماخوذاً) (ملفوظاتِ امیرِ اهلِسنت، 182/1)

**سوال:** صدقه په پټه ورکول افضل ده خو بعضې وخت په ډکه اجتماع کښې اووئیلے شي

---

[1]... د نبیٔ کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: څوک چې د الله پاک د رضا د پاره جومات جوړ کړي نو الله پاک به د هغه د پاره په جنّت کښې محل جوړ کړي. (مسلم، ص214، حدیث:1190)

[2]... که چا په ځنګل یا شاړه کښې جومات جوړ کړو چرته چې څوک نه اوسیږي او خلق په هغه ځائے کم هم تیریږي نو هغه به جومات نه وي ځکه چې په هغه ځائے کښې د جومات جوړولو حاجت نشته. (فتاویٰ ہندیہ، 320/5)

چې تاسو نیت اوکړئ یا څوک اعلان اوکړي نو هغه وخت مونږ له څه کول پکار دي؟

**جواب:** د صدقې ورکولو مختلف صورتونه وي. چرته په پټه ورکول افضل وي او چرته د ټولو په مخکښې ورکول افضل وي. اِنَّمَاالْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات یعنې د اعمالو دار و مدار په نیتونو دے. (بخاری،5/1،حدیث:1) د صدقې په پټه د ورکولو خپل فضیلتونه دي چې په پټه صدقه ورکول د الله پاک غضب سَړَوي. (ترمذی،146/2،حدیث:664) هم داسې په ښکاره د صدقې ورکولو خپل فضیلتونه دي مثلاً که چا د ټولو په مخکښې څکه صدقه ورکړه چې نورو ته هم ترغیب میلاو شي، د نورو هم د ورکولو جذبه زیاته شي نو ظاهره ده چې دا د ثواب کار دے. او که چا صدقه د دې د پاره په ښکاره ورکړه چې خلق ما سخي او نر اوګڼي نو هغه غلط کار اوکړو څکه چې په عبادت کولو د چا په زړۀ کښې خپل احترام خپل عزت جوړولو والا ریاکار او د دوزخ حقدار دے. هر یو دې په خپل نیت باندې غور اوکړي چې هغه په کوم نیت باندې ښکاره صدقه او خیرات کوي. یاد ساتئ! د صدقې ورکولو د پاره نه خو د داسې تور چیلي ورکولو ضرورت دے په کوم باندې چې یو ویښته هم سپین نه وي او نه توره چرګه د سر نه د تاوهلو او ورکولو حاجت دے بلکې څه چې هم د الله پاک په لاره کښې ورکړے شي هغه صدقه ده. (ملفوظاتِ امیرِ اهلِ سنت، 401/1)

**سوال:** صدقه ورکول الله پاک له د قرض ورکولو په شان ده، داسې وئیل څنګه دي؟

**جواب:** (د امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائیل:) په قرآنِ پاک کښې دي: ﴿وَ اَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا﴾ (پ29،المزمل:20) [مَفهُوم]ترجمهٔ کنزُالعِرفان: ”او الله له ښه قرض ورکړئ.“ د دې تفسیر د الله پاک په لاره کښې لګول دي، دا په قرض کښې راځي. (امیر اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَه اوفرمائیل:) دا د الله پاک کرم دے چې پخپله یې راکوي او هم پخپله د هغه په لاره کښې لګولو باندې ثواب او د جنَّت وعدې هُم فرمائي. مونږ چې چا له څه ورکوو نو پته نه لګي چې زمونږ په ذهن کښې به څه څه وي؟ خو د الله پاک شان ته اوګورئ چې په

خپل شانِ کريمي سره ښه ډېر [ثوابونه] عطا کوي. (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 408/1)

**سوال:** په مرغو باندې د صدقې غوښه خوړل څنګه دي؟

**جواب:** بعضې خلق ټپوسانو او کارغانو ته د صدقې په نيت غوښه پورته اولي او په هغو يې خوري دا د غير مسلمو طريقه ده. [(1)] (ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 167/2)

**سوال:** قرضِ حسنه څه ته وئيلے شي؟

**جواب:** د قرضِ حسنه په باره کښې په عوامو کښې دا مشهوره ده چې قرضِ حسنه هغه وي کوم چې ورکړې او هير يې کړې، که قرضدار يې ورکول غواړي نو ور به يې کړي او که نه غواړي نو نه دې ورکوي، دا د قرضِ حسنه عوامي تعريف دے حالانکه هر قرض، قرضِ حسنه يعنې ښه قرض وي کوم چې مسلمان له د هغه د ښيګړې په نيت ورکړې او د سود نه پاک وي. (په دې موقع په مَدَني مذاکره کښې شريک مفتي صاحب اوفرمائيل:) د قرضِ حسنه يو تفسير د صدقاتِ واجبه نه علاوه د نفلي صدقو سره هم شوے دے (تفسیر کبیر، پ2، البقرۃ، تحت الآیۃ:245، 499/2) مثلاً نفلي صدقه کول، په خپل محارمو باندې لګول او د چا نفقه چې لازمه وي په هغوئي باندې لګول وغيره. د بعضې علماء په نزد هر هغه مال کوم چې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې اولګولے شي هغې ته قرضِ حسنه وئيلے شي.
(کنز العمال، الجزء:2، 154/1، حدیث:4220)(ملفوظاتِ امیر اہل سنت، 239/2)

**سوال:** که يو کَس د بَل کس مالي مدد کوي او د دې دواړو نه علاوه دريم کَس د دې نه خبر نه وي نو آيا دې ته پټه صدقه وئيلے شي يا اخستونکي ته د وئيلو بغير ورکړے شي نو پټه صدقه به ورته وئيلے شي لکه يو نابينا ته چې رقم ورکړے شي؟

**جواب:** واقعي دا يوه مسئله ده چې د پټ تعريف څه دے او څنګه ورکولو ته پټه [صدقه]

---

(1)... په ټپوسانو، کارغانو باندې د غوښې خوړلو په باره کښې د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه شوے سوال او جواب اوګورئ: **سوال:** اکثر ليدلے شوي دي چې خلق چيلے راوغواړي او هغه د هلک يا جينئ په نوم باندې ذبح کړي او څه غوښه يې په ټپوسانو، کارغانو خوري او څه فقيرانو له ورکوي، دا عمل تر کومه حده پورې صحيح دے؟ **جواب:** مسکينانو له يې ورکړئ، په ټپوسانو، کارغانو باندې خوړل هيڅ معنیٰ نه لري، دا فاسقان دي، او د کارغانو دعوت رسمِ هنود دے. وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَم . (فتاویٰ رضویہ، 590/20)

وئيلے شي؟ چې يو ته هم پته اونه لګي کيدے شي چې نفس دا نه خوښوي چې چا ته خو به يـې وائي مثلاً وائي به چې ”زه د الياس په لاس کښې رقم ورکول غواړم“ داسې خو به ما ته پته اولګي چې چا دوه لاکهه روپۍ راکړې دي. يا بَل چا ته به وائي چې بَل چا ته مه وايه چې زه به دومره دومره رقم ورکووم. د مثال په طور زما لاس ته يو لاکهه روپۍ تـحفةً راغلې نو هغه زه په خوا کښې [موجود] ګَس له ورکړم او ورته اووايم چې دا فيضانِ مدينه کښې ورکړه او زما نوم مه اخله خو په دې حالت کښې چې يـې چا له ورکووم هغه به هم پته پاتې نشي. که داسې اووئيلے شي چې ”دا رقم د فيضانِ مدينه په چنده بکس کښې واچوه يا د قافلو په مد کښې يـې جمع کړه“ او هغه ته اونه وئيلے شي چې دا رقم د چا له طرفه دے نو هغه به دا ګڼي چې کيدے شي دا به چا ورکړے وي، په داسې قِسمه حکمتِ عملئ سره هم رقم په پټه ورکولے شي. هسې خو په خاموشئ سره ېخپله هم په چنده بکس کښې رقم اچولے شي.

(د اميرِ اهلِسُنَّت دامتبرکاتهم العاليه په خوا کښې ناست مفتي صاحب اوفرمائيل:) په پټه د صدقې ورکولو والا خبره د عرش په سوري کښې د ځائے موندلو والا حديث کښې شوې ده هغه داسې ده چې په ښي لاس باندې صدقه ورکړې نو ګڅ لاس ته پته اونه لګي چې هغه څه اولګول. د پټ عام طور معنٰی هم دا وي چې بَل هيچا ته پته اونه لګي خو که څه داسې ضرورت پيښ شي چې وئيل ضروري وي او د دې نه بغير بَله هيڅ لاره نه وي، مثلاً رقم يو داسې ګَس ته رسوَل دي کوم ته چې يـې دے ېخپله نشي رسولے نو داسې ګَس له دې ورکړي کوم يـې چې متعلقه ګَس ته اورسوي او هغه ته دا اووائي چې هغه ته دا پته اونه لګي چې چا راکړے دے نو اُميد دے چې دا هم په پټه صدقه کښې راشي.

(امير اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهمُ الْعَالِيَه اوفرمائيل:) اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات (يعني د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے.) (بخاری، 5/1، حديث:1) ظاهره ده چې اودريږي او اعلان کوي چې زه دا يو لاکه روپۍ وړاندې کووم او د هغه د رياکارئ نيت نه وي نو دا هم جائز دي اګرچه دې اعلان ته به پټ نه وئيلے

کیږي خو په دې باندې د ثواب میلاویدو اُمید موجود دے. که اِعلان د دې د پاره کوي چې دے پخپله داسې ګَس دے چې د ده په لیدلو به نورو خلقو ته ترغیب میلاو شي او هغوئي به هم څه نا څه رقم د **الله** پاک په لار کښې ورکړي او ځان ښودل يــې مقصد نه وي نو بیا به هم ګناه نه وي بلکې هُم د ثواب اُمید به وي. (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 246/3)

**سوال:** لکه څنګه چې د اخلاص کیفیتونه د اَفرادو په لحاظ سره مختلف وي، آیا د صدقه وغیره پټه ساتلو په اعتبار سره به هُم دا کیفیات مختلف وي؟ لکه رقم ورکولو والا دا حیله جوړه کړي چې مخکښې دا رقم چا له هسې ورکړي او بیا يــې د هغه نه واپس واخلي او د صدقې د پاره يــې ورکړي او اووائي چې دا رقم ما له چا راکړے وو، هم دغه شان که داسې اوکړي چې چا له ورکول وي هغه نــمونځ کوي نو د هغه د پیزار په خوا کښې يــې کیږدي یا د هغه د ښپو په خوا کښې يــې کیږدي یا يــې د هغه کور ته ورواچوي لکه څنګه چې به د بزرګانِ دین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم اعمال وو.

**جواب:** په کتابونو کښې د بزرګانِ دِین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم داسې اندازونه لیکلے شوي دي خو که نن سبا د چا د پیزار په خوا کښې څه کیږدې نو په سوچ کښې به پریوځي چې پته نه لګي دا څه دي؟ دغه شان که کور ته يــې ورواچوې او هغه کور ته څوک میلمه راغلے وي نو هغه به ګنړي چې دا د میلمنو نه غورځیدلي دي او هغه به دا لُقطه اوګنړي. د بزرګانِ دِین رَحۡمَۃُاللّٰہِ عَلَیۡہِم په باره کښې چې څه لیکلے شوي دي چې هغه خلقو به کور ته وراچول نو دا کیدے شي چې هغوئي به د دې سره څه چیټئ هم لیکله، د دې سره سره چا نابینا له هم صدقه ورکولے شي. که څوک يــې فیضان مدینه له ورکول غواړي نو دلته په موجودو مختلفو د چندې په بکسونو کښې يــې هم اچولے شي. ظاهره ده که په خاموشئ سره رقم واچوي نو چا ته څه پته ده چې د لسو نوټ يــې اچولے دے که د زرو (1000)، نو داسې پټ په پټه رقم ورکولے شي. خو عموماً داسې نه کیږي کم از کم د چا په لاس به رقم ورکوي د پاره د دې چې هغه ته معلومه شي چې دا رقم فلانکي صیب راکړے دے. واقعي ده چې رِیاکاري او ځان ښودل داسې په رَګ رَګ

کښې ننوتې دي چې تر څو چا ته پته اونه لګي مزه نه ورکوي. **الله** پاک دې مونږ ټولو ته اِخلاص رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّيْن صلّی الله علیه واٰله وسلّم (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 248/3)

**سوال:** نفلي صدقه چا له ورکول پکار ده؟

**جواب:** چا غريب رشته دار له يې ورکړئ. که چا سيّد صاحب له يې ورکول غواړئ نو هغوئي له يې هم ورکولے شئ، ځکه چې نفلي صدقه هغوئي له ورکولے شي. (فتاویٰ رضویه، 309/10) چې چا له صدقه ورکوئ نو هغوئي ته دا وئيل ضروري نه دي چې دا صدقه يا خيرات دے، ځکه چې کيدے شي په هغوئي بنه اونه لګي. تاسو که اوغواړئ نو د دعوتِ اِسلامي په صدقه بکس يا د لنګرِ رضويه په بکس کښې هم نفلي صدقه اچولے شئ، ځکه چې مونږ ته ټول کال د دې ضرورت وي او په رَمَضَانُ الْمُبَارَك کښې خو د پيشمني او روژه ماتي په مد کښې کروړونه روپئ لګي. دا خبره ياده ساتئ چې په صدقه بکس يا لنګر رضويه کښې د زکوٰة پيسې مه ورکوئ، ګني نو ستاسو زکوٰة به ضائع شي. د خپل جيب د خرچې نه حلال او صفا مال په نفلي صدقه کښې ورکوئ، د **الله** پاک په لاره کښې ورکولو سره مال زياتيږي، کميږي نه. که اوغواړئ نو د خپل آمدن يو فيصد هم د نفلي صدقې د پاره مقرره کړئ، که **الله** پاک توفيق درکړي نو فيصد زيات کړئ چې څومره شات زيات اچوئ هغه همره به خوږيږي. اِسلامي خوئيندو له هم پکار دي چې د خپل جيب د خرچې نه څه حصه مقرره کړي او نفلي صدقه ورکوي، د دې د پاره په کور کښې صدقه بکس هم کيښودے شي. (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 401/3)

**سوال:** صدقه کول او خلقو ته يې وئيل څنګه دي؟ (1)

**جواب:** بزرګانِ دين رَحْمَةُ الله عَلَيْهِم به صدقه په پټه ورکوله د پاره د دې چې چا ته پته اونه لګي، بلکې بعضې وخت به چې چا له صدقه ورکولے شوه هغه ته به هم پته نه وه چې ما له چا

---

(1)...دا سُوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب امیرِ اهلِ سنّت دامت برکاتهم العالیه عطا کړے دے.

صدقه راکړې ده. د حضرت اِمام زَینُ العابدین رضی اللہ عنہ د وصال نه پس دا معلومه شوه چې هغوئې به د فلانکي فلانکي کور خرچه کوله او راشن به يې ورکولو، هغه کور والؤ ته به هم پته نه وه چې په هغوئې باندې سخاوت کولو والا بَل څوک نه، بلکې هُم هغوئې رضی اللہ عنہ وو. (ابن‌عساکر، 383/41) دغه شان په "اِحیاءُ العلوم" کښې د نورو بزرګانو رحمۃ اللہ علیھم واقعات هم دي کومو به چې زکوٰة او خیرات په پټه د غریبانانو کورونو ته رسولو یعني د هغوئې په کورونو کښې به يې اچولو. (احیاء العلوم، 290/1 احیاء العلوم (مترجم)، 656/1) نن سبا خو حال دا دے چې نیکي کمه کوي او نغارې زیاتې وهي، نیکي وړه وړه وي خو هغه د ډیرې لوئې نیکئ په طور باندې بیانوي، بلکې داسې خلق هم وي چې نیکي هم نه کوي، خو بغیر د نیکئ نه هم ځان ښائي.

(ملفوظات امیر اهل سنت، 572/3)

**سوال:** نن سبا چې په کورونو کښې د صدقې او خیرات په نوم باندې کوم چیلي یا غویان وغیره حلالیږي د هغې غوښه په کور کښې استعمالولے شي که نه؟ یا دا به صرف غریب له ورکوي؟

**جواب:** دا عام طور نفلي صدقې وي چې ماشوم بیمار شي نو د هغه صدقه ویستلے کیږي، دا ښه او نیک کار دے. د دې غوښه که چرې په غریبانانو باندې تقسیم کړے شي نو ښه ده، خو که په مالدارو باندې يې اوخوړله یا يې پخپله اوخوړله نو بیا هم ګناه نه ده. عام طور صدقه هم هغې ته وئیلے شي کومه چې غریبانانو له ورکړے شي. خو که واجب صدقه وي نو هغه صرف د غریبانانو د پاره ده. (بحر الرائق، 427/2) (ملفوظات امیر اهل سنت، 217/3)

**سوال:** آیا مِسکین ته صدقه رسولو باندې هم اجر دے؟ (1)

**جواب:** آؤ جي! د خوږ مصطفٰے کریم صلی اللہ علیہ والہ وسلم فرمان مبارک دے: بے شکه **الله** پاک به د

---

(1)...دا سُوال د شعبه ملفوظاتِ امیرِ اهلسنّت له خوا جوړ کړے شوے دے او جواب امیرِ اهلِ سنّت دامت برکاتہم العالیه عطا کړے دے.

ډوډۍ د يوې نمرۍ يا د يوې کجورې يا د دې په مثل کوم مسکين ته د فائده رسوونکي څيز په وجه درې کسان جنّت ته داخلوي: ﴿1﴾ هغه کس چا چې د صدقې کولو حکم اوکړو ﴿2﴾ ښځه کومې چې دا نمرۍ تياره کړه ﴿3﴾ هغه خادم چا چې دا صدقه مسکين ته اورسوله. ټول صفات **الله** پاک لره دي چې زمونږه خادمان هم نه محرومه کوي. (معجم اوسط،89/4، حديث:5309) په يو بل حديثِ پاک کښې دي: صدقه اګر که د اوياؤ [70] زرو لاسونو نه تيره شي نو بيا به هم د آخري کس اجر د ورومبي صدقه کوونکي د اجر په شان وي. (مکارم الاخلاق للطبرانی، ص355، حديث:116)(ملفوظات امير اهلِ سنت،388/6)

**سوال:** آيا د مور پلار او نورو وفات شوو په نوم باندې کپړې يا لوښي خيرات کولے شي؟

**جواب:** کپړې او لوښي خيرات کولے شي. (فتاویٰ رضويه،597/9) البته هُم دا [څيز] خيرات کول دې فرض يا واجب نه ګڼي. (ملفوظات امير اهل سنت، 187/8)

**سوال:** آيا پلار خپلو بچو له صدقه ورکولے شي؟

**جواب:** پلار خپلو بچو له زکوٰة او فطره [يعنې سرسايه] نشي ورکولے، (ردالمحتار،344/3) البته تحفه او انعام ورکولے شي. (ملفوظات امير اهل سنت، 236/7)

**سوال:** آيا زه د خپل بچي د عقيقې کولو په ځائے د هغه څاروي قيمت يو فلاحي [يعنې د خير ښيګړې] تنظيم له ورکولے شم؟

**جواب:** که د دې اجازت ميلاو شو نو بيا به وائي چې د قربانۍ په بدله کښې د قربانۍ څاروے يا د هغې رقم چا غريب له ورکړو، د حج کولو په ځائے چا له پيسې ورکړو، بيا جوماتونه هم مه جوړوئ غريبانانو له يې ورکوئ. داسې نه ده، شريعت چې کومه طريقه ښودلې ده هم هغه به کول وي. چيلے خو به په لس پينځلس زره روپۍ نن سبا کيږي په دې باندې به د غريبانانو څه اوشي، په کور کښې چې کوم د ډيکوريشن څيزونه وي هغه او درې څلور صوفې خرڅې کړئ او غريبانانو له يې ورکړئ، په کور کښې لس کمرې دي نو د يوې،

نیمې حساب اولګوئ او غریبانانو ته یـې حواله کړئ د پاره د دې چې د غریبانانو خو پرې خه اوشي. بهر حال که عقیقه کول وي نو په دې کښې به د قربانئ د څاروي د شرطونو مطابق څاروے ذبح کول وي، هله به دا مستحب ادا کیږي. عقیقه مستحب ده، که چا اونکړه نو ګناه نشته. (بهارِ شریعت، 357355/3 ملتقطاً) (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 16/7)

**سوال:** آیا د وفات شوو انسانانو د طرف نه هم صدقه کیدے شي؟

**جواب:** آؤ جي! د وفات شوو ګسانو له طرفه هم صدقه ورکولے شي دا به د هغوئي د پاره ایصالِ ثواب وي لکه د والد صاحب، نیکه وغیره د ایصالِ ثواب د پاره مو صدقه ورکړه یا په بارګاهِ رسالت کښې مو د نذرانې د پاره د غریبانانو مدد اوکړو چې دا مدد زه [د الله د پاره] د سرکارِ عالي وقار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نوم کووم یا یـې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه د نوم کووم. او داسې ایصالِ ثواب کول جائز دے. (ملفوظاتِ امیر اهل سنت، 205/6)

## ہفتہ وار رسالہ مطالعہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہ! امیر اہل سنّت بانیِ دعوتِ اسلامی حضرت علّامہ مولانا محمد الیاس عطّار قادری رضوی دامت برکاتہم العالیہ / خلیفۂ امیر اہل سنّت الحاج ابو اُسید عُبید رضا مدنی مُدَّظِلُّہُ العالی کی جانب سے ہر ہفتے ایک رسالہ پڑھنے کی ترغیب دی جاتی ہے۔ ماشاءَ اللہ الکریم! لاکھوں اسلامی بھائی اور اسلامی بہنیں یہ رسالہ پڑھ یا سُن کر امیر اہل سنّت / خلیفۂ امیر اہل سنّت کی دُعاؤں سے حصہ پاتے ہیں۔ یہ رسالہ Audio میں دعوتِ اسلامی کی ویب سائٹ www.Dawateislami.net

یا Read and listen Islamic book

ایپلی کیشن سے فری ڈاؤن لوڈ کیا جاسکتا ہے۔ ثواب کی نیت سے سے خود بھی پڑھیں اور اپنے مرحومین کے ایصالِ ثواب کے لئے تقسیم کریں۔

(شعبہ ہفتہ وار رسالہ مطالعہ)

978-969-722-603-0
01082463

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net